# KHYBER PAKHTUNKHWA, PUBLIC SERVICE COMMISSION, PESHAWAR

(۲۰۱۳)

## COMPETITIVE EXAMINATION FOR THE POST OF PROVINCIAL MANAGEMENT SERVICE (BPS۱۷)

**Subject: Pashto**

**Time Allowed ۰۳ hrs** **Maximum Marks: ۱۰۰**

**یادښرنه:(۱) ورومبی سوال لازمي دے ـ د نورو سوالونو نه د خپلې خوښې د څلورو سوالونو جوابونه اولیکئ ـ نمبري برابر دي ـ**

(ب) په وران کړے شوي او بیا لیکلے شوي جواب به نمبرې نشي ورکولے۔

**سوال نمبر۱ په لاندینو سوالونو کښې صحیح ټکی په نخښه کړئ ـ**

۱. خیرالبیان د بایزیدانصاري د نثر کتاب دے۔ په څو ژبو لیکلے شوے دے۔ (دوو۔ درې۔ څلورو۔ پنځو)

۲. تاریخ مرصع کتاب چا لیکلے دے۔ (خوشحال خان خټک۔ افضل خان خټک۔ عبدالقادر خان۔ صدرخان خټک)

۳. پیغله د صاحبزاده محمد ادریس لیکلے کتاب دے۔ (د افسانو مجموعه ده۔ ناول دے۔ داستان دے۔ شعري مجموعه ده)

۴. خولې ګلونه د چا تصنیف دے۔ (عبدالکریم مظلوم۔ عبدالخالق خلیق۔ عبدالاکبرخان اکبر۔ ماسټر عبدالکریم)

۵. جدید نظم په پښتو کښې یو تحقیقي کتاب دے چالیکلے دے۔
(زیتون بانو، پروفیسر سلمی شاهین، پروفیسرفوزیه انجم، حسینه ګل)

۶. شاعر انسانیت باندې کوم یو شاعر یاد کړے شوے دے۔ (خوشحال خان خټک، رحمٰن بابا، حمید بابا، کاظم خان شیدا)

۷. د توري او قلم خاوند څوک وو۔ (عبدالرحمٰن بابا، خوشحال خان خټک، مرزا خان انصاري، حمزه شنواري)

۸. کلید افغاني د کوم مستشرق درسي کتاب دے۔ (پادري هیوز، میجرراورټي، اولف کیرو، ډارمستیټر)

۹. روح ادب کتاب د چاتصنیف دے۔
(مولاناعبدالقادر، پروفیسر محمد نواز طائر، ډاکټر خیال بخاري، پروفیسر پریشان خټک)

۱۰. د جیز انولډسن د کتاب څه نوم دے۔
(سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه، ګلش روه، پښتو منتخبات، د پښتون خوا د شعر هار وبهار)

۱۱. پښتو او مستشرقین کتاب چا لیکلے دے۔
(پروفیسر محمد نواز طائر، ډاکټرراج ولي شاه خټک، ډاکټر محمد جاوېدخلیل، ډاکټر یارمحمدمغموم)

۱۲. ایولن هاؤل او اولف کیرو په شریکه کوم کتاب لیکلے دے۔
(دي پټهان، د پوئمزآف خوشحال خان خټک، (A chrestomathy of the Afghan, Bannu our Frontier Region)

۱۳. د حمیدبابا او کاظم خان شیدا په شاعرۍ کښې څه مشترک دي۔ (مرتبوب، صوفیانه کلام، نصیحت، نازک خیالي)

۱۴. د پښتو ورومبے ناول کوم یو دے۔ (ګل خان، د سروتعویز، نتیجه عشق، کۀ ربا شوه)

۱۵. شهیده سکینه نومې ډرامه چا لیکلې ده۔ (عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خلیق، قاضي رحیم الله، عبدالکریم مظلوم)

۱۶. پښتو ټپه کښې تول څوسېلابه دي۔ (۹۔ ۱۲۔ ۱۹۔ ۲۲)

۱۷. پښتو ادبي تحریکونه د چا کتاب دے۔
(ډاکټر محمد اعظم اعظم، ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفیسر پریشان خټک، ډاکټر اقبال نسیم خټک)

۱۸. اووۀ ګامه مزل کتاب دے۔ (افسانه، ډرامه، رپورتاژ، سفرنامه)

۱۹. زړۀ مې یورو ستا د مخ په ربا زلفو ـــــــ باري غل په سپین سبا کله پټیږي
دا شعر د چا دے۔ (رحمان بابا، خوشحال خان خټک، حمید بابا، علي خان)

۲۰. ټپه او ژوند کتاب چا لیکلے دے۔ (ډاکټر سلمیٰ شاهین، پروفیسر محمد نواز طائر، سیال کاکړ، پروفیسر شاه جهان)

P.T.O

**سوال نمبر۲: د لاندني انګرېزي عبارت په آسانه پښتو کښې ترجمه او کړئ !**

Sir Olaf Caroe was the last British Governor in Peshawar before the transfer of power in ۱۹۴۷. He left Peshawar just before the establishment of Pakistan as an independent sovereign Muslim State, carrying with him a treasure of knowledge gained during an association of over thirty years with this part of the country. He concentrated, as it were, his love for the people and his experience of a life-time into the form of a book entitled "The pathans from ۵۵۰ B.C to A.D. ۱۹۵۷" thus carving for himself an abiding place in the history, of the Pashtun race. The Pathans has attracted wide attention, and his observations and theories about the origin of the Pashtun race, their historical development through the ages and their closely integrated tribal constitution, are drawing young scholars towards a more historical study of his conclusions.

**(ب) د لاندېنو نه صرف د درېو متلونو پښتو کښې ترجمه اوکړئ !**

۱. Let it be an onion, but it should be given with love and pleasure.
۲. A well cannot be dug with one pick-axe.
۳. Oh empty hand, you are my enemy.
۴. When the arm is broken, it is bound to the neck by a sling.
۵. He who is cunning will clear him self.
۶. Horses cannot be fattened in the battle field.

**سوال نمبر ۳: د لاندېني پښتو عبارت په انګرېزۍ کښې ترجمه اوکړئ !**

(**الف**): شاعر د قام سترګې وي او لوئے شاعران د قامونو تقدیرونه جوړوي . علامه اقبال د براعظمګي د مسلمانانو تقدیر جوړ کړو. خوشحال خان د پښتون قومیت بنیاد کېښودو. رحمان بابا دغه قوم ته صیح او ښغه لاره په ګوته کړه. حمزه خان شنواري نیازبینه مینه پښتنه کړه. ادب چې دهرې ژبې وي د انساني احساساتو او د جذباتو د اظهار نوم دے ځکه مونږ پښتنو له پکار دي چې دهرې ژبې ادب نه ځان خبر کړو او استفاده ترې اوکړو. په داسې به زمونږ ادب نور په وړاندې لاړ شي. صرف په غزلونو لیکلو ژبه او ادب مخ په وړاندې نشي تلے.

**(ب): لاندېنو نه صرف درې متلونه په انګرېزۍ کښې ترجمه کړئ !**

۱. چې روټۍ وي مېلمه به ځۀ وي. چې ایمان وي مرګے به ځۀ وي.
۲. ځۀ چې په کتاب کښې دي هغه په خوست کښې نشته.
۳. د تورې ګزار جوړېږي خو د ژبې ګزار نۀ جوړېږي.
۴. په پښتو کښې پښتۍ ماتېږي.
۵. چې نن سپک شي سبا ورک شي.
۶. د پښتون بدي د سرې اوردے.

**سوال نمبر ٤: د رحمن بابا په کلام کښې چې کوم خوږوالے دے هغه اوسه پورې د بل شاعر نصیب نشو دا ولې ـ د هغۀ د کلام په رڼا کښې پرې بحث اوکړئ !**

**سوال نمبر۵: خوشحال خان خټک د نسواني حسن شېدایي وو ـ په شعرونو ئې ثابته کړئ ـ**

**سوال نمبر٦: د پښتو ژبې او ادب پحقله د مستشرقینو ډېر خدمات دي ځۀ څه معلومات درته وي نو لیک پرې اوکړي !**

**سوال نمبر۷:**

پلـــوْ دې د مـــخ اخلـــم پـــښتنې خـــو دا مـــې واوره
زمـــرے غونـــدې بـــه ګـــورې شـــرمېدل بـــه پکـــښې نـــۀ وي

وئیلے شي چې حمزه بابا خپله نیازبینه مینه هم پښتنه لیږلږغواړي. د پاسني شعر په رڼا کښې ئې ثابته کړئ.

**سوال نمبر۸: د پښتو ټپې په ثقافتي، معاشرتي او جمالیاتي اړخونو رڼا واچوئ !**